
# قرآن او فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

05-August-2021



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# قرآن او فاروقِ اعظم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښناك، اُوده كيدلو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د مخكښې نه مو د اعتكاف نِيَّت كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرِفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: بيشكه دُعا د زمكې او آسمان په مينځ كښې حصاره وي، د دې نه هيڅ څيز هم په بره نه ځي، ترڅو پورې چې تاسو په خپل نبـي مُحَمَّدِ عَرَبِـي صَلَّى اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف اونه لولئ. (1)

---

1 …ترمذی، ابواب:الوتر، صفحه:145، حديث:486۔

دُعا کے ساتھ نہ ہووے اگر درود شریف
قبولیت ہے دُعا کو درود کے باعث

نہ ہووے حشر تلک بھی بر آور حاجات
یہ ہے درود کی ثابت کرامت و برکات(1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.(2)

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو:

نِيَّت اوکړئ چې، ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې خومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

صحابيء رسول، حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: كله چې هم د نيكانو خلقو ذِكر كيږي نو د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرِفاروقِ اعظَم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ذِكر كولو كښې تادي كوئ! بيشكه د حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبلول مدد وو،

1...کافی کی نعت، صفحہ: 41۔
2...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

بيشکه د حضرت عُمَر فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خليفه جوړيدل د [علاقو] فتح کولو ذريعه وه، قَسَم په خدائے! کله چې حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ شهيد شو، د دُنيا هر يو څيز تر دې پورې چې ونې هم خفه شوې، قَسَم په خدائے! زه پوهيږم چې د حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د دواړو سترګو تر مينځه يوه فرښته وه کومې به چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته طاقت او هدايت ورکولو، قَسَم په خدائے! که ما ته معلومه شي چې حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به د يو سپي سره محبَّت کولو نو ضرور زه به هم د هغه سپي سره محبَّت اوکړم. (1)

| | |
|---|---|
| بہارِ باغِ ایماں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں | چراغِ بزمِ عرفاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں |
| نہ کیوں وہ ذات چمکے، جس نے دِیْنِ پاک چمکایا | جہاں کے مہرِ تاباں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں |
| وہ عالم دَبدَبہ کا، کانپتے ہیں قیصر و کِسریٰ | ہے جن سے دِین کی شاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں (2) |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د فُقهاء صحابۇ نه دے يعني ❀ هغوئی د اوچتې درجے والا صحابي دے ❀ ماهِر عالِمِ دِين هم دے ❀ اوچتې درجے والا مفتي هم دے ❀ صحابۀ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان به هغوئي نه د مسائلو تپوس کولو ❀ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې قرآن داسې لوستل غواړي څنګه چې نازِل شوے دے، هغه له پکار دي چې د عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په شان ئې اولولي. (3) ❀ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعلينو شريفو او تکيه مبارکه اوچتولو او ايښودلو خدمت د حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په ذِمه

---

[1] …مصنف ابن ابی شیبه، کتاب: الفضائل، فی فضل عمر بن الخطاب، جلد: 7، صفحه: 480، حدیث: 22۔

[2] …دِیوانِ سالِک، صفحه: 28۔

[3] …سنن کبریٰ للنسائی، کتاب: المناقب، عبدالله بن مسعود، جلد: 7، صفحه: 352، حدیث: 8199۔

وو، په دې وجه هغوئي ته صَاحِبُ الْوِسَادَةِ وَ النَّعْلَيْن وئيلے کيږي، يعني د خوږ نبي صَلَّی اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعلين شريف او تکيه مبارکه اوچتولو او ايښودلو والا. (1)

داسې د اوچتې درجے صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نصيحت کوي، فرمائي: کله چې د نيکانو خلقو ذِکر کيږي نو د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرِفاروقِ اعظَم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذِکر هم په تادئ سره کوئ! بيا غور اوکړئ! حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د محبَّت اظهار څنګه په ښکلي انداز کښې اوکړو، فرمائي: که ما ته معلومه شي چې حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د يو سپي سره محبَّت کولو نو زه به هم د هغه سپي سره محبَّت اوکړم. يعني داسې سپك څيز چې عام طور د هغه سره څوک محبت نه کوي، فرض کړه که حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه سره محبَّت کولے نو زه به هم د هغه سره محبَّت اوکړم.

سُبْحٰنَ الله! الله پاك دِ مونږ ته د صحابهٔ کرامو، اهلِ بيتِ اِطهار، خلفائے راشدين عَلَيْهِمُ الرِّضْوان، دې ټولو سره د زړه د اخلاصه د محبت کولو، ادب کولو، د دوئي د ذِکرِ خير کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| هر صحابئ نبی، جنّتی جنّتی | څلور ياران د نبی، جنّتی جنّتی |
| ابو بکر او عمر، جنّتی جنّتی | عثمانِ غنی، جنّتی جنّتی |
| فاطمه او علی، جنّتی جنّتی | حَسَنْ او حُسَيْن هُم، جنّتی جنّتی |

## د حضرت فاروقِ اعظَم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مختصر تَعَارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نصيحت

---

1 ...بخاری، کتاب: فضائل اصحاب النبی، باب: مناقب عبدالله بن مسعود، صفحه: 950، حديث: 3761۔

مطابق به نن مونږه اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ذِكرِ خير كولو سعادت حاصلوو. 🌸 حضرت عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اوچتې درجے صحابئ رسول بلكه مرادِ رسول دے، رسُولِ كريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاك نه دوئي غوښتے وو يعنې خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا فرمائيلې وه چې: **"يا الله په عُمَرَينو كښې يو ته د اسلام توفيق عطا كړې."** د دې دُعا په نتيجه كښې حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول كړو. 🌸 د حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اسلام قبلولو سره د اسلام په عِزَّت او غلبه كښې اضافه اوشوه او مسلمانانو ته حوصله نصيب شوه 🌸 د حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اسلام قبلولو نه پس مسلمانانو په حرم شريف يعنې خانۂ كعبه كښې په ښكاره لمُونځ ادا كول شروع كړو 🌸 رسولِ اَكرَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپل وزير جوړ كړے وو 🌸 د اسلام په ټولو اهَمّو منصوبو كښې حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص مُشير پاتې شوے دے 🌸 خپل ټول ژوند ئې د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې تير كړے دے 🌸 د خليفۂ اوَّل حضرت ابُوبكر صِدّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د وفات نه پس زيات و كم لس كاله، شپږ مياشتې او اَته ورځو پورې حضرت عُمَر فاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مسلمانانو خليفه او **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، پاتې شوے دے. 🌸 آخر په مسجِدِ نَبَوي كښې د سحر په لَمانځه كښې يو كافِر د خنجر په ذريعه په حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ باندې حمله اوكړه، د هغې په سبب هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ زخمي شو او په مدينۂ منوره كښې شهيد شو. حضرت صُهَيب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغوئي د جنازے د لمانځه امامت اوكړو او په روضه مباركه كښې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته دفن كړے شو. (1)

---

[1]...كرامات فاروقِ اعظم، صفحه:5تا6خلاصةً۔

حیاتی میں تو تھے ہی خدمتِ محبوبِ خالق میں
مزار اب ہے قریبِ مصطفےٰ فاروقِ اعظم کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشِقانِ رسول!** د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سيرت ډير ارخونه دي، په هغې کښې يو اهم اړخ د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د قرآنِ کريم سره مضبوط تَعَلُّق دے. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** ټولو صحابهٔ کرامو به د قرآنِ کريم سره محبَّت کولو، قرآنِ کريم به ئې زده کولو، ځان به ئې پرې پوهه کولو، د قرآنِ کريم تلاوت به ئې کولو، په دې باندې به ئې عمل کولو، خو حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د قرآنِ کريم سره يوه انفرادي مينه لرله، او د هغوئې د اسلام قبلولو ذريعه هم قرآنِ کريم جوړ شوے وو.

## د حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اسلام قبلولو واقعه

مشهوره واقعه ده: چې حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لا اسلام نه وو قبول کړے، د اسلام سخت دُښمن وو، يوه ورځ ئې په سخته غُصَّه کښې ښکاره توره راخستې وه او **مَعَاذَ الله!** د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهيد کولو په اراده روان وو، په لاره کښې ورته معلومه شوه چې د هغوئې خور او اَوښے دواړه هم مسلمانان شوي دي، د خور کور ته چې اورسيدلو نو د دننه نه د قرآنِ کريم د تلاوت آواز راتلو، دروازه ئې اوډبوله چې کور ته ننوتلو نو خپله خور ئې اووهله او اوښے ئې هم اووهلو، خو چې کله ئې اوليدل چې د هغوئې د زړه نه د اسلام محبت کم نه شو نو سوچ ئې اوکړو چې آخر اُوخو کورو چې دا څنګه طاقت دے، په اسلام کښې دا څنګه خوند دے چې د دومره وهلو سره هم د دوئې په زړونو کښې د اسلام محبت کم نه شو، د خور نه ئې قرآنِ کريم اوغوښتلو، خور ئې ورته اووئيل: ناپاکه خلق دې ته لاس نه شي ور وړے، غُسل يا اودس اوکړه بيا

به قرآنِ کریم درکړم، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اودس اوکړو، قرآنِ کریم ئې په لاس کښې را واخستلو، بیرته ئې کړو، د سورۀ طٰهٰ آیتونه ئې مخې ته وو، هغه ئې لوستل شروع کړل، چې دې آیت ته را اورسیدلو:

اِنَّنِیۡۤ اَنَا اللّٰہُ لَاۤ اِلٰہَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدۡنِیۡ ۙ (پاره16،سورۂ طٰهٰ:14)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: بیشکه زه الله یم، زما نه سِوا بل څوك معبود نشته نو زما عبادت کوه.

بس چې د دې ځائے پورې ئې اولوستلو نو قرآنِ مجید خپل اثر ښکاره کړو، د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زړه نرم شو، په زړه کښې ئې د اِیمان نور پیدا شو، [پاڅیدلو او لاړو] د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، کلمه ئې اولوستله، د هغوئي په مسلمانیدلو مسلمانانو په اوچت آواز د تکبیر نَعره اولګوله چې د هغې آواز حرمِ کعبه ته اورسیدلو. دغسې حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په اسلام کښې داخل شو. **(1)**

**اے عاشِقانِ رسول!** اوګورئ! د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د قرآنِ کریم سره څومره مضبوط تَعَلُّق دے، په صحابۀ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان کښې بعضې هغه دي کوم چې د مُعجِزاتو په لیدلو مسلمان شوي دي، بعضې صحابه کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان هغه دي کوم چې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اخلاقو نه په مُتَاَثِّره کیدلو باندې مسلمانان شوي دي، بعضې صحابه کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان هغه دي کوم چې د دلائلو په اوریدلو مسلمانان شوي دي، بعضې صحابه کرام مَثَلاً حضرت ابُوبکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ بغیر د څه دلیل او مُعجزے نه مسلمانان شوي دي، بعضې صحابه کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان د قرآنِ کریم په اوریدلو یا لوستلو سره مسلمانان شوي دي، کوم صحابۀ کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان چې د قرآنِ

---

[1]...اتحاف الخیرة المهرة، کتاب: الفضائل، باب: فضائل عمر، جلد:9، صفحه:221تا222، حدیث:8865 خلاصةً۔

کريم په اوريدلو يا لوستلو مسلمان شوي دي، په هغوئي کښې د ټولو نه وړومبے حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دے، په يو روايت کښې دي: کله چې د هغوئي خور هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته قرآنِ کريم ورکړو، هغوئي بيرته کړو او لوستل ئې شروع کړو نو بدن ئې په لړزان شو او د قرآن لوستلو سره ئې مسلسل د بدن لړزان زياتيدلو، آخر اِيمان د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ زړه ته کوز شو او کلمه ئې اولوستله اومسلمان شو. (1)

رسول اللہ نے فاروق کو اللہ سے مانگا عطاءِ ربِّ سُبحاں حضرتِ فاروق اعظم ہیں
چُنا اس پاک نے دیں کے لئے اس پاک ستھرے کو حبیبِ دِین داراں حضرتِ فاروق اعظم ہیں (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

مُحَدِّثِینِ کرام او عُلمائے کرام چې کله د دويم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سيرت بيانوي نو په هغې کښې يو خاص عُنوان **مُوافقاتِ عُمَر** ذِکر کيږي.

دا عُنوان خاص د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سيرتِ پاك دے، د دې نه علاوه د بل صحابي په سيرت کښې باقاعده "مُوافقات" نه بيانيږي.

د مُوافقات مطلب دے: د قرآنِ کريم هغه آيتونه کوم چې د **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د رائے مطابق نازِل شوي دي: مثلاً حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې يوه رائے پيش کړه، په هغې باندې به د قرآنِ کريم آيت نازِل شو، د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ژبې مبارکې

---

1 …مسند بزار، اسلم مولی عمر عن عمر، جلد:1، صفحه:401، حديث:279ملتقطاً۔
2 …ديوانِ سالک، صفحه:28۔

نه به يوه خبره اووتله، په هغې باندې به آيتِ کريمه نازل شو، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به يو کار اوکړو، د هغې په دُرُست کيدلو باندې به د قرآنِ کريم آيت نازل شو. دا تړول 20 يا د دې نه هم زيات آيتونه دي کوم چې د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رائے مُوافِق نازل شوي دي، دې ته "**مُوافقاتِ عُمَر**" وئيلے کيږي.

مثلاً ❁ يو ځل حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آيا مونږه مقامِ اِبراهيم مُصَلّٰـى(د لمانځه ځائے) جوړ نه کړو؟، په دې باندې دا آيتِ کريمه نازل شو:

وَ اتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ (پاره1،سورة البقرة:125)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او ( اے مسلمانانو!) تاسو د ابراهيم د اودريدلو مقام د لمانځه ځائے جوړ کړئ.

❁ يو ځل حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که مونږه د صَفا او مَروَه په مينځ کښې سعي کوو (يعني چکرې لګوو) نو (ښومره به ښه وي...!) په دې باندې دا آيتِ کريمه نازل شو:

اِنَّ الصَّفَا وَ الْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآىِٕرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَیْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْهِ اَنْ یَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ (پاره2،سورة البقرة:158)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: بيشکه صفا او مروه د الله د نښو نه دي نو څوک چې د دې کور حج يا عُمره اوکړي په هغه باندې څه ګناه نشته چې د دې دواړو چکرې اولګوي.

❁ عبدُ الله بِن اُبَـئ کوم چې د منافقانو سردار وو، کله چې هغه مړ شو، هغه وخت حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! چې د دې کافِرِ مُنافِق د جنازے لمُونځ دِ اونکړے شي، په دې باندې حُکمِ قرآني نازل شو:

| | |
|---|---|
| وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّ لَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ (پاره10،سورة التوبة:84) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: او د هغوئي نه د هيڅ چا په مړي باندې هم د جنازے لمُونځ مه كوئ او مه د هغه قبر ته اودريږئ. |

يو ځل "اِبْنِ صُوريا" كافِر اووئيل چې: مونږه د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام دُښمنان يُو، كه ستاسو نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ميكائيل عَلَيْهِ السَّلَام وحي راوړلے نو مونږه به كلمه لوستلې وے د هغه بدبخته په داسې ګستاخه خبره باندې حضرت عُمَر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ وَ مَلَائِكَتِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَ مِيْكَائِيْلَ فَاِنَّ اللهَ عَدُوٌّ لِلْكَافِرِيْنَ۔

دلته حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې كافِر ته دا جواب وركړو او هلته حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شو او دا جمله قرآني آيت جوړه شوه او نازله شوه، الله پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَ مَلٰٓىٕكَتِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ جِبْرِيْلَ وَ مِيْكٰىلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾ (پاره1،سورة البقرة:98) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: څوك چې د الله او د هغه د رسول او د هغه د فرښتو او د جبريل او ميكائيل دُښمن وي نو الله د كافرانو دُښمن دے. |

دغه شان د اسلام نه مخكښې شراب حلال وو، يو ځل حضرت عُمَرفاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دُعا اوكړه: اَللّٰهُمَّ بَيِّنْ لَنَا فِي الْخَمْرِ ، اِلٰهي! د شرابو په مُعامَله كښې زمونږه راهنمائي اوفرمائې. په دې باندې دا آيتِ كريمه نازل شو:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: اے اِيمان والو! د نشے په حالت كښې لمَانځه ته مه نِزدے كيږئ تر څو |

وَ اَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

(پارہ5،سورۃالنساء:43)

پورې چې پوهه نه شئ په هغه خبره کومه چې تاسو وائې.

په دې آيت کښې صرف د لمونځونو په وخت کښې د شراب څښلو نه منع اوکړے شوه، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ را اوبللو، او دا آيتِ کريمه ئې ورته واورلو، نو حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ بيا دُعا اوکړه: اِلٰهي! نور واضحه حکم راعطا کړې، نو بيا دا آيتِ کريمه نازِل شو:

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَ الْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَاۤ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ ۫ وَ اِثْمُهُمَاۤ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ

(پارہ2،سورۃالبقرۃ:219)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: ستاسو نه د شرابو او جوارئ په باره کښې سوال کوي. تاسو اوفرمائې: په دې دواړو کښې لويه ګناه ده او د خلقو د پاره پکښې څه دُنياوي ګټې هم دي او د دې [دواړو] ګناه د دې د ګټې نه زياته لويه ده.

په دې آيت کښې د شرابو بدوالے بيان شو خو مکمل طور باندې ئې حرام نه کړل، خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ را اوبللو او دا آيت ئې ورته واورلو، حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ بيا دُعا اوکړه: اِلٰهي نور واضحه حکم راعطا کړې، نو بيا دا آيتِ کريمه نازل شو:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَيْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾

(پارہ7،سورۃالمائدۃ:90)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: اے ايمان والو! شراب، جوارې، بُت او د قِسمَت معلومولو غشي ناپاکه شيطاني کارونه دي، نو د دې نه بچ اوسئ چې تاسو فلاح اوموموئ .

په دې آيت کښې شراب مکمل طور حرام کړے شو.[1]

| | |
|---|---|
| ملی تائیدِ خدا، تائیدِ حبیبِ خدا | مل گئی تائیدِ اَصْحابِ خَیْرُ الوَرٰی |
| دیا حق نے ان کا ساتھ ہے | فاروقِ اعظم کی کیا بات ہے |
| پیکرِ صدق و صفا ان کے | حق میں رسول خدا کی دُعا |
| جب بھی کچھ کہے حق تیرے ساتھ ہے | فاروقِ اعظم کی کیا بات ہے |

د مُوافقاتِ عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مُتَعَلِّق تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبة المَدِينه کتاب "فيضانِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ" لوستل ډير فائده مند دي. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په احاديثو کښې د فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فضائل

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اسلام د دويم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د رائے مُوافِق نازليدونکي آيتونو نه اندازه اولګوئ چې د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ رائے څومره پخه وه، د حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سوچ او فِکر څومره اعلٰی وو، د هغوئي د زړه مائله کيدل څومره زبردست وو، حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د قرآنِ کريم د مزاج نه څومره واقف وو چې د هغوئي د سوچ مطابق به قرآنِ کريم نازليدلو. سُبْحٰنَ الله! دا د قرآنِ کريم او د حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په خپل مينځ کښې جَوَړ تَعَلُّق دے...!

❀ خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې د عُمَر سره بُغض اوساتلو، هغه زما سره بُغض اوساتلو، چا چې د عُمَر سره مَحَبَّت اوکړو، هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو،

---

[1] ...ثلاث رسائل في مُوافقات عمر بن الخطاب، صفحه:111تا164ملتقطاً۔

بيشکه **الله** پاك د عَرَفے په شپه په مسلمانانو باندې عام فخر فرمائي او په عُمَر باندې خاص فخر فرمائي، بيشکه مخکښې چې څومره انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام تشريف راوړے دے، د هغوئي په اُمَّت کښې به يو مُحَدِّث وو، که زما په اُمَّت کښې څوك مُحَدِّث دے نو هغه عُمَر دے. صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان تپوس اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څنګه مُحَدِّث؟ اوئې فرمائيل: هغه د چا په ژبه چې فرښتے خبرې کوي. (1)

زمونږ په عُرف کښې چې عام طور کوم لفظ مُحَدِّث وئيلے کيږي مثلاً مولانا سردار احمد صاحب رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ته **مُحَدِّثِ اعظم** وئيلے کيږي، د دې نه مراد د حديث شريف ډير لوئ عالِم دے، او په دې حديثِ پاك کښې چې کوم لفظ " مُحَدِّث " راغلے دے، د دې نه مراد هغه کس دے د چا په ژبه چې فرښتے کلام کوي او هغه مُحَدِّث حضرت عُمَر رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ دے.

❀ په يو حديثِ پاك کښې دي: **اِنَّ اللهَ جَعَلَ الۡحَقَّ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ وَ قَلۡبِهٖ** بيشکه **الله** پاك د عمر په ژبه او زړه باندې حق اېښودے دے. (2) ❀ د طَبراني شريف په حديثِ پاك کښې دي، خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عُمَر زما سره دے او زه د عُمَر سره يم، زما نه پس چې عُمَر چرته وي، حق به هغه سره وي.(3) ❀ په حديثِ پاك کښې دي: خوږ نبـي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په آسمان کښې هره يوه فرښته د عُمَر عِزَّت کوي او په زمکه هر يو شيطان د عُمَر نه لرې تښتي.(4)

---

1 …معجم اوسط، جلد:5، صفحه:102، حديث:6726۔

2 …کنزالعمال، کتاب:الفضائل، فضل عمر بن الخطاب، جزء:11، جلد:6، صفحه:262، حديث:32714۔

3 …تاريخ ابن عساکر، جلد:48، صفحه:324۔

4 …جامع صغير، صفحه:486، حديث:7953۔

| | |
|---|---|
| گلی سے ان کی شیطاں دُم دبا کر بھاگ جاتا ہے | ہے ایسا رُعب، ایسا دبدبہ فاروقِ اعظم کا(1) |

✿ يو ځل د اوچتې درجې صحابي، حضرت ابوذر غِفاري رَضِیَ اللہ عَنْہُ يو ځلمي ته اوفرمائيل: زما د پاره د بخښنې دُعا اوغواړه، معلومه نه ده چې د چا دُعا قبليږي، دغه شان اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہ عَنْہُ به هم ماشومانو ته فرمائيل: ماشومانو! دُعا اوکړئ چې عُمَر اوبخښلے شي. (2)

خير! حضرت ابوذر غِفاري رَضِیَ اللہ عَنْہُ خاص هغه ځلمي ته د دعا غوښتلو وينا ولے کړي وه، د دې غټه وجه دا ده چې اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہ عَنْہُ هغه ځلمي ته وئيلي وو چې ته ډير ښه انسان ئې.(3) په دې وجه هغوئي هغه ځلمي ته د بخښنې دُعا غوښتلو وئيلي وو.

| | |
|---|---|
| رہے تیری عطا سے یا خُدا تیری عنایت سے | ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروقِ اعظم کا |
| بھٹک سکتا نہیں ہر گز کبھی وہ سیدھے رستے سے | کرم جس بخت ور پر ہو گیا فاروقِ اعظم کا(4) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ✿✿✿ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دِين مونږ ته په روايت سره رارسيدلے دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه اوس د مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہ عَنْہُ مُتَعَلِّق واوريدل، بعضې ناپوهه خلق د مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہ عَنْہُ منلو نه اِنکار کوي، د هغوئي

---

1 ...وسائِلِ بخشش، صفحه:526۔
2 ...فضائلِ دُعا، صفحه:112۔
3 ...مستدرک، کتاب:معرفة الصحابة، ان الله جعل الحق، جلد:4، صفحه:40، حديث:4557۔
4 ...وسائِلِ بخشش، صفحه:526۔

وينا ده چې د مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ منلو سره د **خَتْمِ نَبُوَّت** اِنکار لازميږي، مَثَلاً که مونږه اومنو چې يوه جمله کومه چې حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اووئيله، بيا هغه جمله قرآني آيت جوړه شوه، نو د دې مطلب دا شو چې په حضرت عُمَر فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ باندې به مَعاذَ الله! وحي نازليده او دا د **خَتْمِ نَبُوَّت** اِنکار دے، لِهٰذا مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ منل صحيح نه دي.

دا د دغه ناپوهه خلقو اعتراض دے. د دې اعتراض د جواب په طور دوه مدني ګلونه په ذِهن کښې اوساتئ! ✿ **<u>وړومبے مدني ګل</u>** دا د ياد ساتلو دے چې "دِين" مونږ ته د روايت په ذريعه رارسيدلے دے، د عقل په ذريعه نه دے راغلے. يعنې څه چې په قُرآنِ کريم کښې دي، څه چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، د هغې د منلو نوم دِين دے، نو خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څه فرمائيلي وو، هغه ټول صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان واوريدل او مخکښې ئې بيان کړل، بيا د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان نه تابعينو واوريدل، د تابعينو نه تبع تابعينو واوريدل، بيا تبع تابعينو وروسته خلقو ته بيان کړل، په داسې ښودلو ښودلو مونږ ته دِين رارسيدلے دے، اوس دا د روايت طريقه يعنې يو کس د ځان نه پس خلقو ته د دِين خبرې زده کړې، او اوښودلې، د دې په باره کښې اُصول مقرر دي، بس کومه خبره چې مونږ ته را اورسي، او د هغې اُصُولو مطابق وي، هغه به قبليږي، که زمونږه عقل د هغې خبرې مُوافِق وې نو په دې باندې د **الله** پاك شُکر ادا کول پکار دي، او که زمونږه په عقل کښې هغه خبره نه راځي نو مونږ به په عقل پسې نه ځُو بلکه د دِين هغه خبره، حديثِ پاك او د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان هغه اقوال به منو، د عقل تابعداري به نه کوو، لِهٰذا چې کله احاديث موجود دي چې حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دې اُمَّت مُحَدِّث دے، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ژبه باندې فرښتے خبرې کوي، د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ژبه باندې **الله** پاك حق ايښودے دے، ځومره ډير

آيتونه د حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په مُوافَقَت کښې نازِل شوي دي، د حديثِ پاك غټې ماهِرانو عُلمائے کرامو دا احاديث، دا روايات په کتابونو کښې ليکلي دي نو اوس که زمونږه په عقل کښې راځي او که نه راځي، مونږ به دا قبلوو....! په دې کښې زمونږ د پاره خير او فائده ده.

| | |
|---|---|
| عقل کو تنقید سے فرصت نہیں | عشق پر اعمال کی بنیاد رکھ |

✿ پاتې شوه دا خبره چې که مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اومنلے شي نو د دې سره د **خَتْمِ نَبُوَّت** اِنکار لازميږي نو دا خبره بالکل غلطه ده، مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ منلو سره د **خَتْمِ نَبُوَّت** اِنکار نه لازميږي بلکه دا خو د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د آخري نبي کيدو زَبَردست دليل دے. هغه څنګه؟ په دې باندې ځان پوهَه کولو د پاره په دې حديثِ پاك باندې غور اوکړئ!

## د خَتمِ نُبُوَّت زَبَردست دليل

د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: **لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيًّا لَكَانَ عُمَر** که زما نه پس څوك نبي وے نو ضرور عُمر به وے. **(1)**

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم. دا حديثِ پاك د **خَتْمِ نَبُوَّت** دليل هم دے او د علمِ غيب هم ښکلے دليل دے. اوګورئ! د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د قيامته پورې به بل نبي نه راځي، نوے نبي راتلل ناممکن دي، بالفرض که نوے نبي راتلل ممکن وے نو څوك به وے؟ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې حتمي جواب ارشاد اوفرمائيلو چې زما نه پس بل نبي راتلل ناممکن دي، او

---

1 ...مستدرک، کتاب: معرفة الصحابة، لو کان بعدی نبی، جلد: 4، صفحه: 38، حديث: 4551۔

بالفرض که ممکن وے نو بیا به حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نبـي جوړیدے. معلومه شوه چې څه شوي دي او د قیامته پورې به څه کیږي، دا خو په غیبو باندې خبردار آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته معلوم دي او ورسره ورسره خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دا هم معلوم دي چې کوم څه نه دي شوي که هغه کیدے نو څنګه به کیدے، سُبۡحٰنَ الله! دا د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم علمِ غیب دے.

عَالِمُ الۡغَیۡب نے ہر غیب سے آگاہ کیا
صدقے اس شان کی بینائی و دانائی کے (1)

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اوس دا حدیثِ پاك **" که زما نه پس څوك نبـي وے نو ضرور عُمر به وے"** د دې حدیثِ پاك اصل مطلب باندې هم ځان پوهه کړئ! د اعلٰی حضرت، شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د وضاحت مطابق د دې حدیثِ پاك مطلب دا دے چې نَبُوَّت کسبي نه دے یعني هیڅ څوك په خپل کوشش، محنت سره نبـي نه شي جوړیدے بلکه **الله** پاك چې چا له غوښتل نُبُوَّت ئې ورعطا کړے دے، او **الله** پاك د نَبُوَّت دا تاج صرف د هغه هستئ په سر ایښودے دے کوم ئې چې د دې لائق جوړکړي دي، په دې اعتِبار سره که اوکتل شي، نو هغه ټول اوصاف کوم چې په انبیاؤ عَلَیۡہِمُ السَّلَام کښې وي، هغه ټول اوصاف په حضرت عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ کښې موجود وو خو **الله** پاك هغوئي نبـي جوړ نه کړو، ولے ئې جوړ نه کړو....؟ په دې وجه چې د **الله** پاك آخري نبـي، رَسُولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته تشریف راوړے وو، اوس د نَبُوَّت دروازه بنده شوي ده، اوس به تر قیامته پورې بل نوے نبـي نه راځي. (2)

---

1 …ذوقِ نعت، صفحه:239۔

2 …فتاوٰی رضویه، جلد:15، صفحه:673۔

اوس اوګورئ! هغه عظيم شخصيت د چا اوصاف چې د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام د اوصافو په شان دي، د چا کردار چې پاك دے، د چا اخلاق چې پاك دي، د چا نه چې شيطان ويرېږي، د چا په ژبه چې فرښتے کلام کوي، د چا په ژبه چې **اللّٰه** پاك حق ايښودے دے، د چا د رائے مُوافِق چې قرآني آيتونه نازلېږي. چې کله داسې د اوچتې درجے صحابي، دويم خليفه، **اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ هم د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامي اختياروي، دوئي هم خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخري نبـي مني، کله هم دا د اوچتې مرتبے والا صحابي د نَبُوَّت دعوٰی نه کوي نو اوس تر قيامته پورې چې څوك دا دعوٰی اوکړي، هغه له پکار دي چې اوَّل خپل مخ په آئينه کښې اوګوري، نَبُوَّت خو ډيره اوچته درجه ده، اوس د قيامته پورې يو انسان د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ درجے ته هم نه شي رسيدے، حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ صحابي دے، اوس هيڅ څوك صحابي نه شي جوړيدے، د حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ په مُوافقت کښې به قرآنِ کريم نازليدو، اوس قرآنِ کريم مکمل شوے دے، اوس د چا په موافقت کښې قرآنِ کريم نه نازلېږي، لِهٰذا د قيامته پورې بل نوے نبـي راتلل خو لا لرې خبره ده، اوس بل دويم عُمَر هم نه شي کيدے.

معلومه شوه چې کله مونږه دا منو چې د حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د رائے مُوافِق به قرآني آيتونه نازليدل، بيا دا هم منو چې حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د دومره اوچت شان لرلو باوُجود نبـي نه وو بلکه صحابي وو نو دا د دې خبرې مضبوط دليل دے چې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس تر قيامته پورې به په دُنيا کښې بل نوے نبـي نه راځي، که د بل نوي نبي راتلل ممکن وے نو حضرت عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ به نبـي جوړ شوے وے، لِهٰذا مُوافقاتِ عُمَر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ منل د **خَتۡمِ نَبُوَّت** اِنکار نه دے بلکه **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه**! د **خَتۡمِ نَبُوَّت** مضبوط دليل دے.

تمہارے بعد پیدا ہو نبی کوئی نہیں ممکن | نبوت ختم ہے تم پر کہ ختم الانبیاء تم ہو[1]

يعني اے خوږه آقا **مُحَمَّدِ عَرَبِی** مکِّـی مَدَنـی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو نه پس بل نبـي پيدا کيدل ناممکن دي نَبُوَّت په تاسو ختم شوے دے، تاسو ختمُ الانبياء ئيِ-

## شانِ فاروقِ اعظم په ژبه د قرآن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ مجید 20 آيتونه هغه دي کوم چې د اسلام د دويم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رائے موافق نازل شوي دي، دغه شان د قرآنِ کريم 20 آيتونه هغه دي کوم چې د حضرت عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان کښې نازل شوي دي او په هغې کښې د حضرت عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شان و عظمَت بيان شوے دے. راځئ! چې د هغې آيتونو نه صرف دوه آيتونه واورو او که د ټولو 20 آيتونو تفصيلي معلومات حاصلول غواړئ نو د دې د پاره د مکتبةُ المَدينه کتاب " **فيضانِ فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ " اولولئ.

## (1) فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نيك مُومِن دے

**سُلْطَانُ الْمُفَسِّرِيْن** حضرت عبد الله بن عبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰى په يوه مُعامَله کښې فِکرمند وو، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو:يَا رَسُولَ الله! د فِکر څه خبره ده، **الله** پاك ستاسو سره دے، فرښتے ستاسو سره دي، حضرت جبرائيل او ميکائيل ستاسو سره دي، حضرت اَبُوبکـر ستاسو سره دے او زه هم ستاسو په خدمت کښې حاضر يم، ټول مسلمانان ستاسو سره دي.

[1] ...سامانِ بخشش، صفحه:166۔

حضرت عُمَرفاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ چې كله په دې انداز د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړه خوشحاله كړو نو **الله** پاك د فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په تصديق كښې دا آيتِ كريمه نازل كړو، ارشاد اوشو: (1)

| | |
|---|---|
| فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِیْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَۚ (پاره28،سورةالتحريم:4) | مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: نو بيشكه الله پخپله د هغوئي مددګار دے او جبريل او نيكان مُومِنان [ئي هم مددګار دي]. |

د حضرت **عبدُ الله بِن مَسْعُود** رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، رَسُولِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيت په تفسير كښې اوفرمائيل: **صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ اَبُوْبَكْرٍ وَّ عُمَرَ** يعني په دې آيت كښې د نيكو مُومِنانو نه مراد ابُوبَكـر صِدِّيق او عُمَر فاروقِ اعظَم (رَضِیَ اللہُ عَنْہُما) دي. (2)

حضرت علّامه عبد الرؤوف مناوى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې فرمان مبارك معنىٰ دا ده چې د اسلام اوَّل خليفه حضرت ابُوبَكـرصِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او د اسلام دويم خليفه حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ، دا دواړه حضرات په فضيلت كښې، اوصافو كښې د ټولو مسلمانانو نه افضل و اعلىٰ دي او د انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه پس د دوئي مرتبه د ټولو نه اوچته ده. (3)

| | |
|---|---|
| عمر کافی نبی کو حَسْبُكَ الله سے یہ ثابت ہے | ہے شاہد جن پہ قرآں حضرت فاروق اعظم ہیں |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1 ...مَطْلَعُ الْقَمَرَيْن فِی اِبَانَةِ سَبْقَةِ الْعُمَرَيْن، صفحه:186 بتغير قليل۔
2 ...تفسير دُرّمنثور، پاره:28، التحريم، زيرِ آيت:4، جلد:8، صفحه:223۔
3 ...مَطْلَعُ الْقَمَرَيْن فِی اِبَانَةِ سَبْقَةِ الْعُمَرَيْن، صفحه:186۔

## (2) د "فاروقِ اعظَم" د پاره بخښنه او لوئ ثواب

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د سيپاره 26، سُورَۀ حُجُرات په دويم آيت کښې مسلمانانو ته حکم اوشو چې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې چې کله عرض کوئ نو د دې خبرې خيال ساتئ چې د هيڅ چا آواز بالکل هم د محبوب نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آواز مبارك نه اوچت نه شي، ګني ستاسو د اعمالو، ستاسو د لمُونځونو، ستاسو د روژو او ستاسو د حجونو د بربادېدلو انديښنه ده.

د تِرمذي شريف روايت دے، چې کله دا حکم نازل شو نو حضرت ابُوبَکرصِدّيق، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم او يو څو نورو صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان په خپل ځان باندې ډير احتياط لازم کړو، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ خو به دومره په قلاره آواز کښې خبرې کولې چې کله کله به ترينه خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا پوښتنه کوله چې څه وائې.[1]

نو د هغوئي په حق کښې **الله** پاك اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیْنَ یَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُولٰٓىٕكَ الَّذِیْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰىؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۳﴾ (پاره26،سورۃالحجرات:3) | مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: بيشکه کوم خلق چې د رسُولُ الله خوا ته خپل آوازونه ښکته ساتي دا هغه خلق دي د چا زړونه چې **الله** پاك د پرهيزګارئ د پاره ازمائيلي دي، د دوئي د پاره بخښنه او لوئ ثواب دے. |

1 ...ترمذی، کتاب:تفسیر القرآن، باب:من سورۃ الحجرات، صفحه:753، حديث:3266۔

هغه صحابهٔ کرام کومو به چې په بارګاهِ رسالت کښې خپل آوازونه ښکته ساتل، خاص طور حضرت ابُوبَکرصِدِّيق او حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما، د دوئي مُتَعَلِّق په دې آيتِ کريمه کښې بيان کړے شو چې **الله** پاك د هغوئي زړونه د تقوٰی او پرهيزګارئ د پاره ازمائيلي دي، د هغوئي د پاره په آخرت کښې بخښنه او لوئ اجر دے.

معلومه شوه چې د حضرت ابُوبَکرصِدِّيق او حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُما بخښنه يقيني ده، دا قطعي جَنَّتيان دي چې **الله** پاك په دې آيتِ کريمه کښې د دوئي د بخښنې او د لوئ ثواب اعلان فرمائيلے دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## فاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ او تلاوتِ قرآن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اسلام دويم خليفه، **اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په قرآنِ کريم باندې عمل کولو کښې ډير ثابت قدم وو، کله چې هغوئي خليفه جوړ شو نو د هغوئي عادتِ مبارَکه وو چې قرآنِ **مجيد** فيصله به ئې واوريدله نو خپله فيصله به ئې پريښودله، کله به ئې هم د قرآنِ کريم خلاف فيصله نه کوله. يو ځل يو کس جُرم اوکړو، هغه ئې د حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په خِدمت کښې پيش کړو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ هغه [**مجرم**] ته سزا واوروله نو هغه په دغه وخت کښې دا آيتِ کريمه اولوستلو:

خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾

(پاره9،سورۃالاعراف:199)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: اے حبيبه! مُعاف کول اختيار کړه او د نيکئ حکم کوه او د جاهلانو نه مخ واړوه.

حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ چې دا آيتِ مبارکه واوريدلو نو غور کول ئې

پرې شروع کړو بيا ئې هغه کس مُعاف کړو. (1)

| | |
|---|---|
| خدا کے فَضل سے میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا | خُدا اُن کا محمد مُصطَفٰے فاروقِ اعظم کا |
| رہے تیری عطا سے یا خدا! تیری عنایت سے | ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروقِ اعظم کا(2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سحر په لمَانځه کښې ئې ډير زيات اوژړل

حضرت عبدُ الله بِن شَدَّاد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سحر د لمَانځه اِمامتي کوله، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سورۀ يُوسُف تلاوت شروع کړو، په لوستلو لوستلو چې آيت نمبر84 ته اورسيدلو، **الله** پاك ارشاد فرمائي:

وَ تَوَلّٰى عَنْهُمْ وَ قَالَ يٰۤاَسَفٰى عَلٰى يُوْسُفَ وَ ابْيَضَّتْ عَيْنٰهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيْمٌ ﴿۸۴﴾

(پاره12، سورۀ يوسف:84)

مفهوم ترجمه کنزُ العِرفان: او يعقوب د هغوئي نه مخ واړولو او اوئې وئيل: هائے افسوس! د يُوسُف په جدائي باندې، او د يعقوب سترګې د غمه سپينې شوې نو هغوئي (خپل) غم برداشت کولو.

چې کله حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا آيتِ کريمه اولوستلو نو ډير ئې اوژړل، ژړل ئې، ژړل ئې، بيا ډير ساعت پس ئې رکوع اوکړه. (3)

---

1 ...الزواجر عن اقتراف الكبائر، الكبيرة الثالثة، جلد:1، صفحه:107۔

2 ...وسائل بخشش، صفحه:526۔

3 ...كنز العمال، كتاب:الفضائل، جزء:12، جلد:6، صفحه:264، حديث:35828۔

## د ژړلو په سبب ئې ساه بنده شوه (حکايت)

د حضرت حَسَن بَصري رَضِیَ اللہ عَنۡہُ نه روايت دے: يو ځل اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہ عَنۡہُ د سورۂ طُور آيت نمبر 7 او 8 تلاوت کړو:

| مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان: بيشکه ستا د ربّ عذاب ضرور واقع کيدونکے دے، هغه هيڅ څوک نه شي لرې کولے. | اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌۙ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍۙ (پارہ27،سورۂ طور:7تا8) |
| --- | --- |

د دې آيتونو لوستلو سره په هغوئي باندې خوفِ خُدا غالب شو او دومره ئې اوژړل چې د ژړا نه ئې ساه بند شوه او تقريباً د شلو ورځو پورې ئې هُم دا کيفِيَّت جارى وو. (1)

| مَیں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی (2) | تِرے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ |
| --- | --- |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! دا دے د اسلام دويم خليفه، اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عُمَرفاروقِ اعظَم رَضِیَ اللہ عَنۡہُ، د هغوئي د قرآنِ کريم سره څومره مَحَبَّت وو، هغوئي به په څومره مَحَبَّت سره، څومره په مِينه د قرآنِ کريم په معنو و مفهوم کښې ډوب شوے د خوفِ خُدا سره د قرآنِ کريم تلاوت کولو- مونږه هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان يُو، راځئ چې مونږه هُم لږ په خپل ځان باندې غور اوکړو، چې زما په زړه کښې د قرآنِ کريم څومره مَحَبَّت دے؟ دا زمونږه حق جوړيږي، چې مونږه د خپل ځان نه تپوس اوکړو چې څومره ورځې شوې

[1] ...کنزالعمال، کتاب:الفضائل، جزء:12، جلد:6، صفحه:264، حديث:35827۔
[2] ...وسائل بخشش، صفحه:105۔

دي چې مونږه قرآنِ کريم بيرته کړے دے، دا قرآن، د **اللّٰه** پاك پاك کلام دے کوم چې **اللّٰه** پاك زمونږ د هدايت د پاره نازل کړے دے، دا قرآن شِفا ده، په دې قرآن کښې د بدني بيمارو نه هم شِفا ده، د باطني بيمارو نه پکښې هم شِفا ده، په دې قرآنِ **مجيد** کښې **اللّٰه** پاك زمونږ د پاره د ژوند اُصُول بيان کړي دي، مونږه دا قرآنِ کريم، د **اللّٰه** پاك دا کلام څومره لولو، په دې باندې د ځان پوهه کولو څومره کوشش کوو.

که مونږه لمُونځ ادا کوو او په لمَانځه کښې د موبائل د ټلئ اواز راشي، يا د موبائل وائبريشن **محسوس** کړو نو د لمَانځه نه مو تَـوَجُّه واوړي، ،چې د چا فون به وي يا د چا پيغام به وي، او د سلام ګرځولو نه پس فوراً موبائل ګورو، بعضې خو لا دُعا ته هم صبر نه کوي او د دُعا نه **مخکښې** موبائل ګوري. آه! دا قرآنِ کريم زمونږ د ربّ کلام دے. په دې کښې زمونږ د پاره هدايت دے، رنړا ده، نُور دے، په دې کښې زمونږ د مسائلو او پريشانو حل دے، په دې کښې زمونږ د مُعاشي مُعامَلاتو حل دے، افسوس! د دې پاك کلام لوستلو د پاره زمونږ زړه نه بے قراره کيږي، په دې باندې ځان پوهه کولو د پاره مونږه نه بے قراره کيږو. کاش چې مونږ ته هم د قرآن **محبت** نصيب شي، کاش چې مونږه هم د قرآنِ کريم تلاوت کوونکي جوړ شو، کاش چې زمونږه ژوند هُم د قرآن د اُصُولو مطابق شي. حضرت عبدُ اللّٰه بِن مسعود رَضِیَ اللّٰہ عَنْہُ فرمائي: بيشکه قرآنِ کريم شفاعت کوونکے دے او شفاعت به ئې قبليږي هم، پس څوك چې قرآنِ کريم خپل اِمام او پيشوا جوړ کړي، قرآنِ کريم به هغه جنت ته بوځي او څوك چې قرآنِ کريم پريږدي، قرآنِ **مجيد** به هغه دوزخ ته غوزار کړي. (1)

| | |
|---|---|
| گر تُو می خواہی مسلماں زِیستَن | نِیست ممکن جُز بہ قُرآں زِیستَن |

1 …مُصَنَّف عَبْدُ الرَّزَّاق، باب: تعليم القران، جلد:3، صفحه:229، حديث:6030۔

[فارسي شعر دے د دې ترجمه ده]

**ترجمه**: که د مسلمان ژوند تیرول غواړې نو د قرآنِ کریم نه بغیر داسې هیڅ کله نه شي کیدے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار مدرسةُ المَدینه (برائے اسلامي وروڼړه)

مخکښې به ئې دې ته [تنظیمي طور باندې] "**مدرسةُ المَدینه بالغان**" وئیلو، اوس ورته"**مدرسةُ المَدینه**" (برائے اسلامي وروڼړو) وائي.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** قرآنِ کریم سره د محبت کولو، د قرآنِ کریم د تلاوت کولو، په قرآنِ مجید باندې د ځان پوهه کولو، او د عمل کولو د جذبے حاصلولو د پاره د عاشَقانِ رسول دیني تحریك دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره وابسته شئ او **12** دیني کارونو کښې د زړه په اِخلاص سره حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دِین و دُنیا بیشمیره برکتونه به حاصل کړئ. **یاد ساتئ!** د ذِیلي حلقے په دولسو دیني کارونو کښې یو د هرې ورځې دیني کار "**مدرسةُ المَدینه**" (برائے اسلامي وروڼړه) هم ده.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د دعوتِ اسلامي زیر اهتمام په جماتونو، سکولونو، کالجونو او مارکیټونو وغیره کښې لګیدونکې مدارسُ المَدینه کښې د زیات عمر اسلامي وروڼړو ته د تجوید سره د قرآنِ کریم تعلیم ورکولے کیږي. او ورسره ورسره بنیادي ضروري احکام و مسائل او سُنتونه او آداب هم ورښودلے کیږي.

## فیشن پرست د سُنتونو عامِل جوړ شو

د بلوچستان د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: چې د دعوتِ اسلامي دیني ماحول

سره وابسته کيدو نه مخکښې زه فيشن پرست ووم، نه مې په مخ ګيره وه او نه مې په سر باندې عمامه وه، د سُنَّتو نه لرې د دُنيا په محبت کښې مست ووم او خپل قيمتي ژوند مې په بےعملئ او جهالت کښې تيرولو. زما په ژوند کښې د دِين شمع داسې بله شوه چې يوه ورځ يو اسلامي ورور ما ته د تجويد سره د قرآنِ مجيد لوستلو د پاره د ماسخُتن د لمَانځه نه پس لګيدونکې د اسلامي وروڼو مدرسةُ المَدينه کښې د شريک کيدو دعوت پيش کړو، ما د هغه د نيکئ دعوت قبول کړو او په مدرسةُ المَدينه کښې شريك کيدل مې شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې په برکت ما د تجويد سره قرآنِ کريم زده کړو او فيشن مې پريښودو او د سُنتو عامِل جوړ شوم.

يهى ہے آرزُو تعليمِ قرآں عام ہو جائے
تلاوت کرنا صُبح و شام ميرا کام ہو جائے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "مدنى قاعِده(*madani qaida*)" موبائِل ايپلی کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي آئي. ټي ډيپارټمنټ يو ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، چې نوم ئې **مدني قاعده** (***Madani Qaida***)[ايپلي کيشن] دے. په دې ايپلي کيشن کښې ئې مکمل مدني قاعده او د دې آډيو شامله کړې ده يعنې په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعدے په کوم حَرف يا کوم لفظ باندې کِلک (Click) اوکړئ نو په آډيو کښې به د هغې تَلَفُّظ اووئيل شي، دغسې د دې ايپلي کيشن په مدد په آسانئ سره مدني قاعده لوستلے شئ، د دې مشق کولو سره دُرُست مخارج او ضروري تجويد زده کولے شئ. دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترينه هم فائده حاصله

کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: "زما په نائب باندې دِ د **اللّٰه** پاك رحمت وي. عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکے او نورو ته ښودونکے."(1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا　　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## لويدلي نوړئ اوچتول او خوړل سُنَّتِ مصطفٰى دي

**دوه فرامينِ مصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) څوک چې د دسترخوان نه د ډوډئ لويدلي ټکړه اوچته کړي او اوئې خوري، هغه به اوبخښلے شي. (2) (2) کوم کس چې د دسترخوان نه د طعام خوړلو نه پس د ډوډئ ټکړے او ذرے راغونډې کړي، [او اوئې خوري] د هغه په رزق کښې به فراخي کيږي، او د هغه اولاد به صحيح و سلامت او بے عيبه کيږي او هغه ټکړے به د حورو حق مَهر شي. (3)

**اے عاشقانِ رسول!** د ډوډئ لويدلي نوړئ اوچتول او خوړل سُنَّتِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي. ❁ حضرت عائشه صديقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1 صفحه: 201، حديث: 220۔

2 ...جامع صغير، حديث: 1426۔

3 ...كيميائے سعادت، اصل اول در آداب طعام، صفحه: 104۔

كور مبارك ته تشريف راوړو، نو د دوډۍ ټكړه ئې پرته اوليدله، هغه ئې را اوچته كړه صَفا ئې كړه اوبيا ئې اوخوړله . (1) ❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلو صحابه كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ته هم د دې حكم كولو چنانچه حضرت مَعقَل بِن يَسار رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ ته دا حكم وو چې كله لقمه (يعني نوړۍ) اولويږي، هغه صفا كړئ، او اوئې خورئ ، د شيطان د پاره ئې مه پريږدئ. (2)

اللّٰه پاك دِ مونږ ته هم په سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې د عمل كولو توفيق رانصيب كړي. د طعام خوړلو د نورو سُنتونو او آدابو زده كولو د پاره او د رزق اَهَمِّيَّت باندې پوهيدلو د پاره د شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة مشهور كتاب "**فيضانِ سُنَّت جلد اوَّل**" نه د "**آدابِ طعام**" باب اولولئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 ...ابن ماجه، كتاب:الاطمة، باب: عن القاء الطعام، صفحه:545، حديث:3353۔

2 ...ابن ماجه، كتاب:الاطمة، باب: لقمة اذا سقطت، صفحه:534، حديث:3278۔

بُزرګانو فرمائيلي دي چې ځوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

## صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃُ اللہِ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکارِ مدينه صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵